آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۸/۲۱

# د خوشحال خان ختک آثار

## سواتنامه ، لومړی برخه

### خوشحال پوهنه

### ۳۱

په دوران د شاجهان بادشاه ځواني وه
میسره د زړه هره کامراني وه

*****

سوات مې واړه لکه پای کړه سر تر پایه
خبر دار یې شوم له هره، هره ځایه

*****

ما د سوات د عالم ښه ننداره وکړه
د هر، هر فریق مې پته ښکاره وکړه





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د خوشحال په منظومو آثارو کې سواتنامه ځانګړی ځای لري، د مثنوي په قالب کې ویل شوی، ټول درې سوه یو نوي (۳۹۱) بیتونه لري او د خوشحال د سوات د سفر ډیر جالب منظوم او هر اړخیز ګزارش دی. ده اوه میاشتې په سوات کې تیرې کړې او د سوات د ټولنې او سواتیانو ژوند یې په هر اړخیز ډول مطالعه کړ، وې پیژاند، وې څیړه، سم یې نقد کړ او په هنري ژبه یې انځور کړ:

**اوه میاشتې یم په سوات کې ګرځیدلی**
**همه واړو دی عظیم سوګند خوړلی**

خوشحال د سواتنامې په پیل کې، له جغرافیایي پلوه د سوات موقعیت د شعر په ژبه داسې بیانوي:

**په دوران د شاجهان بادشاه ځواني وه**
**میسره د زړه هره کامراني وه**

**سوات له سرایه فاصله لري دیرش کروهه**
**چې ور کوز شې تر دریا د سوات تر کوهه**

**درې ځیزونه مې د سوات د زړه په یاد وو**
**نور یې هر څه په حساب و ما ته باد وو**

**و شمال و ته یې غر بلورستان دی**
**شرق کشمیر، غرب یې کابل او بدخشان دی**

**هندوستان وته تور غر لري بد غاشي**
**ورخاته پرې د لښکرو په غوغا شي**

**په هوا کې د کشمیر په آب و رنګ دی**
**حیف دا چې کشمیر ارت دی دا تنګ دی**

**طولاني دره تر دیرشو کروهو ډیره**
**عرض یې دوه کروهه، یا یو یا تیر و بیره**

**له مشرقه یې دریاب درمي مغرب ته**
**په کږ راست یې ویل مه کوه کاتب ته**

**د چترال سرحد له سوات سره قریب دی**
**غر او سم یې آبادان جریب، جریب دی**

**وچترال و ته یې لار د کوهستان ځي**
**تر چتراله په پنځه ورځې کاروان ځي**

**درې ځلور میاشتې دا لار وي ښه روانه**
**ډیر آفت لري له برفه له بارانه**

**یوه لار د هندوکش ده ترکستان ته**
**بله لار دا د چترال ده بدخشان ته**

**بله لار چې د پتن ځي تر کاشغره**
**بله لار که په مورنګ ځي لره بره**

**دا ځو لارې په سرحد د هندوستان دي**
**نورې لارې په سرحد د خراسان دي**

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۷۳۸- ۷۳۹- ۷۴۰ مخونه)

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ځنګه چي تاریخ وایي د یوسفزیو قوم د پښتنو د شمیر او قوت له نظره یو قوي قوم او له پخوا نه یې د سیمې په حالاتو کې ټاکونکی رول درلود. کله چي په کابل کې بابر هوډ وکړ چي هند ته ولاړ شي او هند ونیسي، نو د همدې یوسفزیو قوم مرستي ته اړ و، د همدې دلیل له مخي یې خپښي ورسره وکړه، د بي بي مبارکي په نامه یې د یوه لوی خان لور ور نه وکړه او د دوی په مرسته یې د هند پر لوري لار پرانسته.

د خوشحال خان په وخت کې هم د یوسفزیو قوم هماغسې قوي و او په سوات کې د لنډي سیند پر غاړه د ختکو د قبیلي په ګاونډ کې اوسیدل. کله چي خوشحال له مغلو سره د مبارزې هوډ وکړ، نو د یوسفزیو د قوم د مرستو د جلبولو له پاره یې د یوسفزیو سیمې سوات ته سفر وکړ. علامه حبیبي د تاریخ مرصع په حواله داسې لیکلي دي:

«د ختکو او یوسفزیو تر منځ یو د کابل رود، چي دوی یې د لړ پسور په اعتبار «لنډی» بولي، بهیږي. ښی خوا ته یې له نوښاره تر اټکه د ختکو، او کیڼ لاس ته یې د یوسفزو سیمه ده. یوسفزي خو تر سواته او بونیره پراته او یو لوی پښتون ټبر دی چي د خوشحال خان په وخت کې یوازې د سمې یوسفزي یوولس زره کوره وو چي ګرده پنځه زره سپاره ځني راوتل.»

(ختک خوشحال خان، سواتنامه، د افغانستان د علومو اکاډیمی، د ژبو او ادبیاتو انستیتوت په ۱۳۵۸ کال، د استاد حبیبي مقدمه، ۷۰ ام مخ)

په سوات کې د خوشحال او د هغه ځای د ملایانو او خلکو تر منځ د بحثونو په پایله کې، خوشحال ته بلنه ورکول کیږي چي بیا خبرو ته کیني، یا د میا نور خواب و وایي او یا یې خبري و مني. دغه جریان خوشحال د سواتنامې په یوه برخه کې په هنرمندانه ډول انځور کړی دی، یوه برخه یې په لاندې ډول ده:

ګنده پز او ګنده خور سره جوړیږي
خاص په خاص او عام په عام سره ګډیږي

ملکان، شیخان یې واړه سره تول کړه
په خپل سحر په افسون یې ګِچ او ګول کړه

القصه چي له دمغاره نه روان شول
تر پیوله پوري راغلل یک زبان شول

ملکان راله راغلل یوه ډله
ورسره ملک عبدل و، پیره کله

د لنګر ختک په کلي کې زه ناست وم
فراغت د توت تر سیوري لاندې ملاست وم

دا سګان را لره راغلل زه یې وینښ کړم
په لیده او په راتله یې په تشویش کړم

په خندا یې را ته و وې دا خبره
اوس ترو پاځه خوشحال خانه زوروره

په درست سوات دې غوغا ګډه کړه ته خوب کړې
نه دې غم، نه دې پروا، نه تلاتوب کړې

میا نور درلره راغی ناست په رود دی
خبرولو له راغلو زمونږ دود دی

یا ورځه اوس میا نور وته ځواب کړه
یا قبول د درویزه مخزن کتاب کړه

د درست سوات د ملایانو دا رضا ده
چي قبول دې کا دا کار، فایده هم دا ده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**مـــا وي دیـــن د مـــحـــمـــد دی مـــا منلـی**
**بـــي قـــرانـــه بـــل کـــتـــاب دی چـــا منلـی**

**درویـــــزه نـــه مـــجـــتـــهـد دی، نـــه امام دی**
**دی هـــم خـــام، تاسو هـم خـام، مـخـزن هم خام دی**

**مـلایـــان د ســـوات هـــمـــه زکـــات خـــواره دي**
**پـــه دانـــش، پـه دیـــن، پـــه علم خـــبـــر نـــه دي**

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۷۴۸مخ)

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ